
مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۴۰۰ د غویي ۱۲مه | د ۲۰۲۱ د مې دویمه | ۷۱۵مه گڼه


پوهنتون

۴ مخ

## خانه دانش
## د لوړو زده کړو موسسه

خانه دانش د لوړو زده کړو موسسه د خپلو محصلینو د وړتیاوو لوړولو په موخه، ځینې امکانات لکه کمپیوټر لب، انټرنېټ کلب، کتابتون او د عملي درس لپاره کنفرانس خونې لري.




# د لوگر خونړی ماښام؛
## په پل علم کې موټربم برید ۱۳۴ کسانو ته مرگ ژوبله واړوله



۳

## کرنې وزارت: په کابل کې په ۷۸ جریبه ځمکه د نیالگیو د تولید قوریې جوړېږي



کرنې او مالدارۍ وزارت وايي، چې د ۱۴۰۰م لمریز کال د پلان له مخې د کابل د ځینو سیمو په ۷۸ جریبه ځمکه کې به د غیر مثمرو نیالگیو د تولید قوریې جوړې شي.
د دغه وزارت ویاند اکبر رستمي وايي، د یادو ۷۸ جریبه قوریو د تخنیکي چارو تر بشپړېدو وروسته به یې نیالگي د کرنې وزارت د طبیعي سرچینو لوی ریاست له خوا د همکارو ادارو په مرسته د کابل د زرغون کمربند پروژې په ځانگړو شویو سیمو کې کېښودل شي.
رستمي زیاتوي، د ترلاسه کېدونکو نیالگیو په تولید سره به د کابل د زرغون کمربند لمن پراخه او د دې سیمې د زرغونتیا او سمسورتیا لامل او ورسره به د چاپېریال او هوا د ککړتیا کچه ټیټه شي.
د کرنې وزارت د معلوماتو له مخې، سږکال په ټول افغانستان کې شاوخوا د ۲۱ میلیونو نیالگیو د کېښودلو پلان جوړ شوی دی.

### د لوگر پېښه؛ د تکرار وېره او حللاره

۲ مخ

### ماموریت ناتمام دو دهه جنگ امریکا در افغانستان

۲ مخ

### د بایډن د واکمنۍ لومړی سل ورځې؛ خپلې څومره ژمنې یې عملي کړې دي؟

۳ مخ

## واشنگټن پوسټ: د طالبانو تر کنټرول لاندې خاوره دوه چنده شوې او تر پخوا پیاوړې شوې

واشنگټن پوسټ ورځپاڼې د افغانستان د وضعیت په اړه یو اوږد راپور خپور کړی دی. په دغه راپور کې راغلي، چې طالبانو په دې وروستیو کې د هېواد په لویو لارو کې لنډمهالي او دایمي پوستې جوړې کړې او هره ورځ چېک پاينټونه اچوي.
په راپور کې وړاندې راغلي چې د امریکایي ځواکونو له وتلو او دغه راز د بهرنیو ځواکونو د هوایي بریدونو له درېدو سره سم، طالبانو خپل فشارونه ډېر کړي او د افغان حکومت فعالیتونه یې اغېزمن کړي دي. د راپور په یوه برخه کې راغلي چې د طالبانو د واک لاندې خاوره دوه چنده شوې او دغې ډلې لا هم په نا امنو سیمو کې د خپل فعالیت ساحې پراخولو لپاره فشارونو ته دوام ورکړی دی.
د سرچینې په خبره، په دې وروستیو کې د طالبانو فعالیتونه د دې ډلې د قوت ښودنه کوي او د افغانستان د راتلونکي لپاره د خطر زنگ دی. دا راپور وروسته تر هغې خپرېږي، چې څو ورځې وړاندې د امریکا پوځ ویلي وو که افغان حکومت او طالبان په خپلو کې یوې سیاسي هوکړې ته سره ونه رسېږي، نو له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو د وتلو تر ټولو بده پایله به د افغان حکومت ړنگېدل وي.

## طالبان: د دوحې له تړونه سرغړونې د بهرنیو ځواکونو پر ضد هر ډول اقدام ته لار پرانیستې



۲ مخ

محب:
## طالبان از راه جنگ به هدف نخواهد رسید



پس از اعلام رسمی ایالات متحدهٔ آمریکا برای بیرون‌شدنش از افغانستان، طالبان حمله‌های‌شان را بر بخش‌هایی از ولایت‌های کشور شدت بخشیده‌اند.
حمدالله محب، مشاور امنیت ملی رئیس‌جمهور دیروز در یک نشست خبری مشترک خبری با سرپرستان وزارت‌های دفاع و داخله با تأیید افزایش حمله‌های طالبان هم‌زمان با اعلام خروج سربازان خارجی از افغانستان، هشدار می‌دهد که این گروه از راه جنگ به هدف نخواهد رسید.
آقای محب تأکید می کند که حامیان طالبان به آنان مشورهٔ اشتباه داده‌اند که می‌توانند از راه جنگ به قدرت برسند.
حمدالله محب می‌گوید که حامیان طالبان به آنان مشورهٔ اشتباه داده‌اند که می‌توانند از راه جنگ به قدرت برسند.
مشاور امنیت ملی رئیس‌جمهور فعالیت‌های گروه‌های تروریستی در افغانستان را باهم هماهنگ می‌داند و می‌گوید که گروه‌های تروریستی القاعده و داعش، تمام فعالیت‌های تخریبی‌شان را با هماهنگی طالبان انجام می‌دهند.
در همین حال، محمدیاسین ضیا، سرپرست وزارت دفاع نیز در این نشست از افزایش حمله‌های طالبان در بیش‌تر ولایت‌ها هم‌زمان با آغاز خروج سربازان خارجی سخن می‌زند و می‌گوید که تمام کاستی‌های نیروهای امنیتی و دفاعی در جریان یک‌سال گذشته در حال تکمیل‌شدن است و نیروهای امنیتی توان مقابله در برابر حمله‌های طالبان را دارند.



کتاب مو
د ژوند ملگری کړئ
Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

# د لوګر پېښه؛ د تکرار وېره او حللاره

د لوګر پـه مرکـز پـل علـم کـې د يـو روغتـون ځنـګ کـې پـر يـو مېلمسـتون موټـر بـم بريـد شـوی دی. چارواکـي وايـي چـې پـه دې بريـد کـې ۲۴ کسـان وژل شـوي او ۱۱۰ نـور ټپيـان دي. ويـل کېـږي چـې پـه دغه مېلمسـتون کې کانکـور تـه راغـلي ځوانـان او هغـه سيمه‌ييز پوليـس وو، چـې غوښـتل يـې ازرې ولسـوالۍ ته ولاړ شـي، خـو د لاربنـدۍ لـه املـه يـې چورلکـې تـه انتظـار کاوه. د بريـد پړه چا نه ده اخيسـتې، خـو ارګ وايـي چـې دا د طالبانـو کار دی او پـه دې بريـد سره يـې وښـوده چـې د سـولې اراده نـه لـري او غـواړي حالـت نور هم پېچلـی کړي. دا واقعـاً يـو وحشـيانه بريـد و، چـې پکـې ملکـي وګـړو تـه پراخـه مرګ‌ژوبلـه واوښـته. د روغتـون پـه ځنـګ کـې آن د موټـر هـارن بايـد ونـه شي، خـو دلتـه د روغتـون ځنـګ کـې موټـر بـم بريد کېـږي، چـې دا د ټولـو اسـلامي او انسـاني ارزښـتونو خـلاف کار دی. څنګـه يـو انسـان دومـره وحـشي کېدلـی شي چـې د روژې پـه مبارکـه مياشـت کـې د يـوه روغتـون ځنـګ کـې داسـې وحشـت وکـړي!؟ کـه بريد پـه پوره نظامـي هـدف شـوی وي، بيـا هم په هېـڅ ډول د توجيـه وړ نـه دی. دا بريد ښـيي چـې زموږ په هېـواد کـې د څومره وحشـيانو لاسـونه کار کوي او څومـره ظـالم او جاهـل انسـانان د دې هېواد د ورانـۍ او د انسـانانو د وژنـې ماشـين چلوي. دا سـمه ده چـې هېـڅ لـوري د دې پېښـې مسـووليت نـه دی اخيسـتی، خـو د جګـړې هېـڅ لـوری هـم لـه پـړې خـلاص نـه دی. دا ډول پېښـې ځکـه کېـږي چـې جګـړه ده او ځکـه بيـا بيـا تکرارېـږي چـې د سـولې خـبرې پـه ټپـه ولاړې دي او جګـړه زياتـه شـوې ده. که طالبـان وايـي چـې بريـد مـوږ نـه دی کـړی، پـه دې لـه پـړې خـلاص نـه دي، ځکـه چـې دوی همداسـې بريدونـه او جګـړې کـوي او کـه دا بريـد دوی هـم نـه وي کـړی، خـو د دوی جګـړې او بريدونـو داسـې حالـت تـه لاره برابره کړې ده. حکومـت هـم د دې وحشـت لـه پـړې ځـان نـه شي خلاصولـی. د حکومـت کار دا نـه دی چـې يـوازې طالبـان ملامـت کـړي، بلکـې حکومـت د خلکـو د امنيـت سـاتنې مسـوول دی. حکومت اړ دی چـې خلـک خونـدي کـړي او د دې ډول پېښـو مخـه ونيـسي. لـه بلـه اړخـه د سـولې پـه برخـه کـې د حکومتـي چارواکـو دريـځ هـم د جګـړې د دوام او د دغـه ډول پېښـو د رامنـځ ته کېـدو سـبب شـوی دی. لـه همـدې املـه دواړه اړخونـه د دې ډول وحشـتونو عامليـن دي او دوی يـې پـه هېـڅ ډول له مسـووليت څخه ځان نـه شي خلاصولـی.

د دغـه ډول وحشـتونو د دوام وېـره ده او د يو بل پـر ملامتولـو او نيوکـو يـې مخه نه نيـول کېږي. تـر هغـو چـې جګـړه وي او تـر هغـوم چـې دواړه اړخونـه يـو پـر بل بريدونـه کوي، دا ډول پېښـې بـه کېـږي. کـه دواړه اړخونـه رښـتيا دا ډول وحشـتونه نـه غـواړي، نـو يوه روښـانه لاره شـته. دواړه اړخونـه دې د سـولې پروسـه چټـه کـړي، د خنډونـو د جوړولو پر ځای دې انعطاف وښـيي، قربـاني دې ورکـړي، سرې کرښـې دې نه باسي او ټولـه هڅـه دې وکـړي چـې د سـولې خـبرې بريالـۍ شي. همـدا يوه او يوازينـۍ لاره ده چې د دغـه ډول پېښـو مخنيـوی پرې کېـدای شي. لـه دې پرتـه داسـې پېښـې پخـوا هم شـوې وې او بيـا بـه هـم تکرارېږي.

# ماموريت ناتمام دو دهه جنگ امريکا در افغانستان

منبع: گاردین
نویسنده‌گان: آدام وینستین و استفن ورتهایم
ترجمه: سیدجمال اخگر

سرانجام، به نظر می‌رسد که امریکایی‌ها به بازگشت به خانه تمایل دارند. آیا آن‌ها در آن‌جا می‌مانند؟

رئیس جمهور جو بایدن چهارشنبه گذشته اعلام کرد که تا ۱۱ سپتامبر- بیستمین سال‌گرد دودهه جنگ همه نیروهای زمینی امریکا را از افغانستان خارج خواهد کرد. سپس وی از گورستان ملی آرلینگتون دیدار کرد. خبرنگاری از وی پرسید که آیا تصمیم‌گیری او برای خروج دشوار بوده است؟ بایدن پاسخ داد: «نه، این‌طور نبود. برای من کاملاً واضح بود.»

سهل بودن تصمیم‌گیری برای بایدن از دلایلی که وی برای ختم ماموریت در افغانستان بیان کرد، روشن شد. بایدن با انتقاد از اهداف بزرگ و نامشخصی که توسط پیشینیان وی دنبال می‌شد، از دستور دادن سربازان امریکایی برای انجام هرگونه مأموریتی بدون دست‌آورد، امتناع ورزید. وی اذعان می‌کند که جنگ میان افغان‌ها احتمالاً ادامه خواهد یافت؛ اما تصمیم گرفت که امریکایی‌ها را از جنگ بیرون کند. این‌که تصمیم رئیس جمهور بایدن عملی می‌شود یا نه، در ماه‌های آینده روشن خواهد شد. پیش از این، بایدن حاضر به تکمیل عقب‌نشینی در مهلت اول ماه می که از دولت قبلی به ارث برده بود، نشد.

مهلت عقب‌نشینی اول ماه می مصادف با آغاز فصل کارزار خشونت تابستان در افغانستان است. اکنون طالبان آماده هدف قرار دادن امریکایی‌های در شرف خروج هستند. چه این اتفاق بیفتد و چه نیفتد، یک چیز مسلم است: کسانی که ایالات متحده را وارد جنگ‌های ابدی کردند، برای جلوگیری از خروج نیروها تمام تلاش خود را به خرج خواهند داد. به محض اعلام خروج بایدن، یک گروه هم‌صدا شد و حملات نقدآمیز خود را علیه وی به نمایش گذاشت. جمهوری‌خواهان این اقدام بایدن را به خطر انداختن امنیت ملی ایالات متحده دانستند و از آن به شدت انتقاد کردند.

میچ مک کانل، رهبر جمهوری‌خواه سنا، ابراز داشت که حضور نیروهای امریکایی برای «کنترل تروریزم رادیکال اسلامی» در آن‌جا لازم بود. هرچند وی توضیح نداد که چرا تهدیدات در افغانستان بیش از تهدید در جاهای دیگر است. همکار وی، لیندزی گراهام تصور این‌که عقب‌نشینی نیروهای امریکایی سبب توطئه دیگر همانند یازدهم سپتامبر از خاک افغانستان خواهد شد را برانگیخته است. برخی دیگر احساساتی شدند و تصمیم بایدن را خیانت به شرکا و ارزش‌های امریکا دانستند.

مکس بوت، کارشناس مسایل سیاسی در روزنامه واشنگتن‌پست، ابراز داشته است که در صورت خروج نیروهای امریکایی، کابل به دست طالبان سقوط می‌کند؛ درست همانند سقوط سایگون به دست ویتنام شمالی.

برید جنرال مک ماستر که به عنوان مشاور امنیت ملی دونالد ترمپ خدمت کرده، اعلام عقب‌نشینی را با شرایطی که ممکن است یک قرن پیش از یک دفتر استعماری صادر شده باشد، تشبیه کرد. وی در توییتر خود نوشت: «ما افغان‌های شجاع را در مرز بین بربریت و تمدن رها می‌کنیم». چنین بحث‌هایی از زمان آغاز جنگ به اندازه کافی صورت گرفته است. مهم‌ترین این بحث‌ها، گزارش مبالغه‌آمیز از جزئیات جنگ است، بدون این‌که پرسیده شود که این اهداف قابل تعریف و یا واقعاً قابل تحقق است، مورد تحسین قرار گرفت. اما برای اولین بار یک رئیس جمهور امریکا الزامیتی که این استدلال‌ها به صورت مشترک دارد را مشخص و رد کرده است: آن‌ها به دلیل عدم از بین رفتن کامل تروریست‌ها و طالبان در افغانستان جنگ دایمی را پیش‌بینی می‌کنند و هم‌چنین ارتش امریکا نمی‌تواند بنا به مفاهیم «تمدن» مک ماستر، کشور را بازسازی کند.

پس از کشته شدن ۲۴۴۸ عضو خدمات و هزینه کردن ۲ میلیارد دالر، انتخاب، ادامه جنگ بود؛ اما بایدن تصمیم گرفت که همین حالا نیروها را بیرون کند. با وجود این‌که بایدن خود را متقاعد کرده است که باید جنگ پایان یابد، با این حال، نمایش حوادث موجود در زمین توسط حامیان ادامه جنگ‌های ابدی در واشنگتن، می‌تواند به امید جلوگیری از بلاهای قریب‌الوقوع، روند وی را کُند یا معکوس کند.

با آغاز روند خروج ۳۵۰۰ سرباز امریکایی در ماه می از افغانستان، طالبان احتمالاً خود را پیروز اعلام می‌کنند و برای تصرف مناطق جدید حمله خواهند کرد. نیروهای آن‌ها آماده حمله و تصرف مناطق روستایی و حتا مراکز ولایات هستند.

در سال ۲۰۱۵، هنگامی که باراک اوباما، رئیس جمهور امریکا تلاش کرد یک مأموریت گسترده ضدشورش را به یک «مأموریت آموزشی» به رهبری ناتو تبدیل کند؛ طالبان، کندز، شهری با حدود ۲۵۰۰۰۰ نفر جمعیت را تصرف کردند و آن را برای مدت دو هفته در دست داشتند. دولت افغانستان برای بازپس‌گیری کنترل مناطق به نیروی‌های ضربتی هوایی امریکا احتیاج داشت. ممکن است تابستان امسال نیز شهرهای بزرگ در معرض حملات قرار بگیرد و سناریوهای مشابه رخ دهد. وقتی دولت افغانستان از امریکا درخواست حمایت مستقیم نظامی کند و اعضای کنگره با این خواست موافقت کنند، بایدن باید نه بگوید.

طالبان موجب نقض حقوق بشر می‌شوند که مطمئناً به صورت گسترده از تلویزیون‌های امریکا پخش خواهد شد. نمونه بارز آن مناطقی است که قبلاً در دست طالبان بود. در ولسوالی سنگین ولایت هلمند، طالبان تقریباً همه جنبه‌های زنده‌گی روزمره را کنترل می‌کنند. آن‌ها مدارس غیردینی را بسته‌اند. آن‌ها تصمیم می‌گیرند که آیا افغان‌ها می‌توانند تلفون همراه داشته باشند یا خیر؟

برای امریکایی‌ها، تماشای بازگشت حکومت طالبان بسیار آزاردهنده خواهد بود. برخی ممکن است از اقدامات نظامی ایالات متحده برای جلوگیری از ضایع شدن دست‌آوردهایی که به سختی به دست آمده است، حمایت کنند.

بایدن باید با منطق سخت‌گیرانه‌ای که هفته گذشته به کار گرفته است، سریع بایستد و عواقب طولانی‌مدت را نسبت به ترس فوری در اولویت قرار دهد. دفاع از یک شهر افغانستان برای مدت یک ماه تمام، متضمن دفاع از آن برای مدت نامحدود است. طوری که بایدن به مردم گفت، مبارزات نظامی ایالات متحده «هرگز موثر واقع نشد- نه زمانی که ۹۸۰۰۰ سرباز در افغانستان داشتیم و نه زمانی که به چند هزار نفر رسیده بودیم.»

اگر خشونت در افغانستان ادامه یابد، به این دلیل است که تعهدات بسیار محکم امریکا در تحمیل صلح ناتوان بوده است. حتا آن‌ها ممکن است مانع دست‌یابی افغان‌ها به ثبات شده باشند. بایدن این اصل را به خوبی بیان کرد: «فقط افغان‌ها حق و مسؤلیت دارند که کشور خود را رهبری کنند.» بنابراین، نیروهای امریکایی باید آن‌جا را ترک کنند.

سرانجام، این بار، به نظر می‌رسد که امریکایی‌ها مایل به آوردن نیروها به خانه هستند. همان‌طوری که بایدن از این امر بدون شک قدردانی می‌کند، وی در مورد عقب‌نشینی حمایت گسترده مردم را نیز با خود دارد. طبق نظرسنجی بنیاد اوراسیا گروپ، بیش از ٦٠ درصد امریکایی‌ها از توافق‌نامه خروج با طالبان حمایت کردند؛ در حالی که تنها ۸ درصد با آن مخالف بودند. حتا کهنه سربازان پس از یازده سپتامبر که در جنگ‌های عراق و افغانستان شرکت کرده‌اند، از ادامه جنگ حمایت نمی‌کنند. هم‌چنین نسل‌های جدید رای‌دهنده‌گان علاقه‌ای به از سرگیری جنگ برای همیشه ندارند. یک بررسی انجام شده توسط مرکز پیش‌رفت امریکا نشان می‌دهد که نسل آینده بیش‌تر از بزرگان خود جنگ در افغانستان را ائتلاف منابع و بدون منفعت برای امنیت ملی دانسته است و آن را رد می‌کند. رهبران امریکایی متوجه آن شده‌اند. اگرچه مخالفت‌های سیاسی هم‌چنان به قوت خود باقی است؛ اما از اعلامیه بایدن استقبال خوبی صورت گرفت.

اکثر دیموکرات‌ها، مانند سناتور برنی سندرز و باربارا لی که مدت‌ها است خواستار پایان جنگ‌های بی‌پایان بودند، از این اقدام تحسین می‌کنند. چاک شومر، رهبر اکثریت سنا، با وجود مخالفت با برکناری رئیس جمهور ترمپ، از اقدام بایدن استقبال کرد. شومر اظهار داشت: «من جنگ‌های بی‌پایان نمی‌خواهم و مردم امریکا نیز نمی‌خواهند.» جمهوری‌خواهان، نیز به نوبه خود دیگر از آن حمایت نمی‌کنند. در حالی که بزرگان حزب اعتراض کردند، تصمیم بایدن با استقبال سناتورها، از جمله تد کروز، جاش هالی و مایک لی روبه‌رو شد.

به نظر می‌رسد که مدعیان بعدی ریاست جمهوری حزب جمهوری‌خواه، بایدن را به دلیل عقب‌نشینی خیلی زود انتقاد کنند. با تشدید خشونت در افغانستان، این ستایش‌ها ممکن است کم‌رنگ‌تر شود. سروصدای منتقدان بایدن بلندتر خواهد شد. اما اگر افغان‌ها بخواهند سرنوشت سیاسی خود را تعیین کنند، بزرگ‌ترین و طولانی‌ترین جنگ امریکا برای همیشه باید پایان یابد. امسال ایالات متحده می‌تواند از یازده سپتامبر در فضای صلح همراه با کشوری که حملات از آن‌جا برنامه‌ریزی شده بود، یاد بود به عمل آورد.

# طالبان: د دوحې له تړونه سرغړونې د بهرنيو ځواکونو پر ضد هر ډول اقدام ته لار پرانيستې

طالبانو ويلي، د دوحې په تړون کې له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو د وتلو لپاره د ټاکلي ضرب الاجل له ژمنې سرغړونې د بهرنيو ځواکونو پر وړاندې هر ډول اقدام ته لار پرانيستې ده.

د طالبانو وياند ذبيح الله مجاهد ويلي، دوی په دې تړاو د خپلې رهبرۍ لارښوونې ته انتظار باسي او هغوی چې څه ډول پرېکړه کوي، دوی به يادې پرېکړې سره سم عمل کوي.

طالبانو تر وړاندې ګواښ کړی و چې که بهرني ځواکونه د دوحې په تړون کې له ټاکل شوي ضرب الاجل سره سم د اپرېل تر وروستۍ نېټې و نه وځي، بريدونه به پرې پيل کړي.

امريکا او د ناټو متحدينو يې د اپرېل په ۱۴مه اعلان وکړ چې د وخت محدويت او تخنيکي ستونزو ته په کتو په ټاکلې موده کې د ټولو ځواکونو ايستل ممکن نه دي او د پاتې ځواکونو د وتلو لړۍ په د مې له لومړۍ پيل او د سپټمبر تر ۱۱ مې به بشپړه شي.



په ورته مهال افغان چارواکي وايي، له افغانستانه د پاتې بهرنيو ځواکونو د وتلو لړۍ عملاً پيل شوې ده. د دفاع وزارت سرپرست او لوی درستيز جنرال ياسين ضيا تېره ورځ له امنيتي غونډې وروسته د امنيت له سلاکار حمد الله محب سره ګډې خبري ناستې ته وويل: «بهرينو ځواکونو عملاً وتل پيل کړي. ځينې ځايونه چې دوی پکې پخوا مېشت وو، ښايي روانه اونۍ موږ ته وسپاري. ښايي له ښورابک د دوی يوه کوچنۍ مېشته ډله راووځي. راتلونکي کې به له نورو سيمو هم ووځي.»

ضيا زياتوي چې د بهرني ځواکونه لومړی د بګرام په څېر خپلو سترو مرکزونو ته راځي او بيا خپلو هېوادونو ته ستنېږي. طالبان داسې مهال د بهرنيو ځواکونو پر وړاندې د احتمالي اقداماتو لپاره د خپلو مشرانو پرېکړې ته د انتظار خبره کوي، چې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت له خوا د ترويکا د وروستۍ ناستې په ګډه اعلاميه کې راغلي: «د وتلو پر مهال بايد د سولې پروسه اغېزمنه نه شي... او د بهرنيو ځواکونو خونديتوب بايد تضمين وي.»

له افغانستان د پاتې بهرنيو ځواکونو د وتلو د لړۍ له پيلېدو سره د تاوتريخوالي او جګړې د ډېرېدو اندېښنې هم مل دي.

د ترويکا غړو هېوادونو که څه هم په دوحه کې د ناستې پرمهال ټينګار کړی چې د بهرنيو ځواکونو وتل بايد د افغانستان د امنيتي وضعيت له ښه کېدو او د جګړې له کمېدو سره مرسته وکړي او له طالبانو په زغرده پکې غوښتل شوي چې پسرلني عمليات و نه کړي، خو د افغانستان امنيتي چارواکي وايي دې ډلې جګړې او بريدونو ته چمتووالی نيولی دی.

# د بایډن د واکمنۍ لومړی سل ورځې؛ خپلې څومره ژمنې یې عملي کړې دي؟

بي‌بي‌سي- پښتو

جو بایډن د امریکا د ولسمشر په توګه په لومړیو سلو ورځو کې له کډوالۍ رانیولې تر کوویډ-۱۹، اقتصاد او اقلیم پورې پر ډېرو داسې موضوعاتو تمرکز کړی، چې امریکا ورسره مخ ده.
هغه په دې لړ کې د چهارشنبې ماښام د کانګرس ګډې غونډې ته په دې موده کې پر خپلو کړنو او راتلونکو پلانونو هم خبرې وکړې.
مونږ دلته د هغو کارونو د ارزولو هڅه کړې، چې جو بایډن یې د ولسمشرۍ لومړیو دریو میاشتو کې د تر سره کولو ژمنه کړې وه او تازه یې کانګرس ته وینا کې وویل چې کارونه یې کړي دي.
جو بایډن: «سلو ورځو کې به مو تر ۲۲۰ میلیونو ډېر کسان واکسین کړي وي»
جو بایډن د جنورۍ په ۲۰مه د واک له تر لاسه کولو وروسته د کار په لومړیو سل ورځو کې سلو میلیونو کسانو ته د کرونا واکسین د لګولو ژمنه کړې وه. هغه د مارچ وروستیو کې دا ژمنه دوه برابره کړه.
د امریکا د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي مرکز (سي ډي سي) د ارقامو له مخې، دغه هېواد کې تر دې دمه ټولټال ۲۳۵ میلیونو کسانو ته واکسین لګول شوی دی.
د ډونالډ ټرمپ د ولسمشرۍ تر وروستیو، شاوخوا ۱٦ میلیونو امریکایانو ته د کرونا واکسین لګول شوی و.

تازه ارقام ښيي چې د ښاغلي بایډن د واک په لومړیو سلو ورځو کې شاوخوا ۲۲۰ میلیون امریکایان واکسین شوي دي.
خو که د امریکا د ټولو وګړو د شمېر له مخې د واکسین شویو کسانو سلنې ته وکتل شي، نو دا هېواد لا هم په دې برخه کې له اسراییلو او برېتانیا وروسته دی.
جو بایډن: «تر ۱۱ میلیونو ډېر بې اسناده کسان؛ د ډېرو د وېزو وخت اوښتی»
ښاغلی بایډن د مکسیکو له لارې امریکا ته دې وروستیو کې د ناقانونه کډوالو د ورماتېدو د نوې څپې له کبله له نیوکو سره مخامخ دی.
جو بایډن کانګرس ته خپله وینا کې وویل، دغه هېواد کې ډېری بې اسناده مېشت کسان له قانوني لارو په ویزه ورغلي، خو اوس یې د ویزو وخت اوښتی دی.
که څه هم وروستیو کلونو کې امریکا ته په ویزې د ورغلو او هلته د پاتې شویو کسانو شمېر رښتیا هم له سویلي پولې په ناقانونه توګه دغه هېواد ته تر ور اوښتو کسانو لوړ دی، خو دا سمه نه ده چې کیسه دې له پیله همداسې وي.
نیویارک کې د کډوالو په تړاو د مطالعاتو مرکز څېړنې ښيي، چې د ۲۰۱۰ او ۲۰۱۷ کلونو تر منځ د ویزې له ختمېدو وروسته امریکا کې د پاتې شویو کسانو شمېر پر پوله له ور اوښتو کډوالو د پام وړ لوړ دی.
څېړونکي وایي دا لړۍ تېرو لسیزو کې داسې نه وه.
په ۲۰۱۹ کال کې هم ٦٧٦ زره ۴۲۲ کسان د ویزو تر ختمېدو وروسته امریکا کې پاتې شوي، خو پر پوله د درول شویو کسانو شمېر له ۹۷۷ نیم زرو هم لوړ و.
جو بایډن: «سرحد کې د کډوالۍ کچه هر کال په اوړي کې ډېرېږي»
ښاغلي بایډن تېره مارچ میاشت خپل لومړي رسنیز کنفرانس ته ویلي وو چې: «د اوړي په جنورۍ، فبرورۍ او مارچ میاشتو کې پولې ته د راتلونکو کډوالو شمېر د پام وړ لوړ شوی دی. دا کار هر کال کېږي.»
د امریکا د ګمرک او پولو خوندیتوب اداره د دغه هېواد د سویل- لوېدیځې پولې په تړاو میاشتني ارقام خپروي.
د دې ادارې شمېرې ښيي چې د روان ۲۰۲۱ کال په جنورۍ کې له ۷۸ زره ۴۴۲ او فبرورۍ کې ۱۰۰ زره ۴۴۱ کسانو سره مخامخ شوي، په داسې کال کې چې د تېر کال په دغو میاشتو کې دا شمېر ۳٦ زره تنه و.
د ولسمشر بایډن تر دې ادعا وروسته، د مارچ خپاره شوي ارقام ښيي چې دې میاشت کې ۱۷۲ زره ۳۳۱ کسان د سویل- لوېدیځې پولې امریکا ته کډوال شوي چې دا تېر څو کلونو کې تر ټولو لوړ شمېر دی.
جو بایډن: «امریکا د نړۍ تر ۱۵ سلنې کم ګلخانه‌یي ګاز تولیدوي»
دا سمه ده چې امریکا د ټولې نړۍ تر ۱۵ سلنې کم کاربن تولیدوي. د امریکا ولسمشر جو بایډن دا خبره کانګرس ته په وینا سربېره د نړۍ د اقلیم په تړاو وروستۍ غونډه کې هم کړې وه.
هغه د اقلیم په غونډه کې پر سترو اقتصادي هېوادونو غږ کړی و، چې د نړۍ د تودوخې د مخنیوي لپاره ګډ کار وکړي. تېرو څو لسیزو کې د چین چټکې اقتصادي ودې ته په کتو، دغه هېواد تر بل هر چا ډېر ګلخانه‌یي ګاز تولیدوي او امریکا ورپسې دویمه ده.
که د وګړو د شمېر له مخې حساب شي، نو امریکا دمګړۍ د چین په ګډون، د نړۍ تر بل هر شتمن هېواد ډېر کاربن ډای اکساید ګاز خپروي.
جو بایډن: «[جورجیا] کې پر پنځو بجو چې خلک له کار رخصتېږي، د رای مرکزونو د تړل کېدو پرېکړه مناسبه نه ده»
ولسمشر جو بایډن څو ځایه دا یادونه کړې چې ګوندې د رای اچونې پروسه په پنځو بجو پای ته رسول کېږي، خو دا واقعیت نه لري.
د امریکا جورجیا ایالت کې د ټاکنو نوي لانجمن قانون پر رایې اچونه د اغیز په اړه تاوده بحثونه راپورته کړي دي.
د دغه قانون له مخې، د ټاکنو په ورځ یا وړاندې د رایې اچولو لپاره د رایو مرکزونه د سهار له ۷ د مازیګر تر ۵ پرانیستي پاتې کېدل.
دغه ساعتونه د رایو ورځ ټاکي او وایي: «رایې اچونه باید په ۹ پیل او په ۵ پای ته ورسېږي.»
قانون تر وخت د وړاندې ټاکنو لپاره هم صراحت لري، د رایې اچونې لپاره پکې تر پنځو بجو هم وخت په پام کې نیول شوی، خو د اړتیا پر مهال دا وخت تر ۷ بجو هم غځول کېدای شي.
جو بایډن: «څنګه چې پوهېږی، امریکا کې د اسپانیایي نژادو نفوس په چټګۍ ډېرېدونکی دی»
دا سمه نه ده. د تېرو دوو لسیزو ارقام ښيي چې امریکا کې تر اسپانیایي توکمو امریکایانو د اسیایي توکمو امریکایانو د نفوسو وده ډېره ده.
ولسمشر بایډن دا ادعا تېره مارچ میاشت د مکسیکو له ولسمشر سره خبرو کې راپورته کړې وه.
د پیو څېړنیز مرکز شننې ښیي چې د ۲۰۰۰ او ۲۰۱۹ کال تر منځ موده کې د اسیایي توکمه امریکایانو نفوس ۸۱ سلنه وده کړې او له ۱۰ اعشاریه ۵ میلیونو څخه نږدې ۱۹ میلیونو ته رسیدلی دی.
په دې موده کې د اسپانیایي توکمو امریکایانو د نفوسو وده بیا ۷۰ سلنه وه او ټولیز شمیر یې په ٦۰ میلیونو اوښتی دی.

# د لوګر خونړی ماښام؛

## په پل علم کې موټربم برید ۱۳۴ کسانو ته مرګ ژوبله واړوله



د سولې لپاره له نړیوالو او سیمه‌ییزو هڅو سره هممهاله په هېواد کې نا امنۍ ډېرې شوې دي. د همدې نا امنیو په دوام د هېواد ګڼ ولایتونه په تېرو ۲۴ ساعتونو کې د ګڼو امنیتي پېښو شاهدان وو. تر ټولو خونړۍ یې ورم ماښام مهال په لوګر ولایت کې موټربم برید و چې له ډول ډول غبرګونونو سره مخ شوی دی. په پېښه کې تر ۲۴ پورې کسان وژل شوي دي. افغان حکومت یې د طالبانو کار بولي، خو دغې ډلې یې تر دې دمه مسوولیت نه دی منلی.
وروسته له هغه چې امریکایي ځواکونو د وتلو په بهیر کې د ځنډ خبره وکړه، طالبانو هم د بریدونو د ډېرېدو خبرداری ورکړ. په تېرو ساعتونو کې د هېواد ګڼ ولایتونه د نښتو، چاودنو او ان هدفي بریدونو شاهدان وو. تر ټولو خونړۍ پېښه د لوګر په مرکز پل علم کې موټربم برید و. ورم ماښام هغه مهال چې د پل علم اوسېدونکي پر روژه ماتي بوخت وو، خورا زوروري چاودنې یې روژه ماتی په غم بدل کړ. د ښار د ډېرې برخې د ودانیو ښیښې ماتې شوي او چاودنې ته نږدې سیمې ویجاړې شوي او زیانمنې شوي دي.
وروستۍ شمېرې ښيي چې په پېښه کې ۲۴ کسان وژل شوي او ۱۱۰ نور ټپیان دي. د لوګر ځایي چارواکي وایي چې د یادو ځاني تلفاتو تر څنګ دغه چاودنې درانه مالي زیانونه هم اړولي دي. د لوګر ولایت اوسېدونکي او حکومتي سرچینې وایي چې په چاودنه کې تر ډېره محصلین او هغه زده‌کوونکي وژل شوي او ټپیان دي چې د لوګر له ازرې او ځینو نورو ولسوالیو د کانکور په ازموینه کې د ګډون لپاره پل علم ته راغلي وو. د قربانیانو کورنۍ وایي چې دوی د عدالت غوښتنه کوي او حکومت یې باید ځواب ووایي. د لوګر والي بیا وایي چې دوی پر دغه پېښه سخت خواشیني دي، د اصلي عاملینو د پیدا کولو پلټنه یې روانه ده. هغه همدا راز ویلي چې د لوګر ولایت له زیانمنو شوو کورنیو سره به ژر تر ژره مرستې وکړي او په خبره یې په دغه ولایت کې یوه کمېټه جوړه شوې او دوی به د زیانمنو کورنیو لېست برابروي.
بلخوا دغه پېښه په کور د ننه او بهر له سختو غبرګونونو سره مخ شوې ده. ولسمشر غني په خپره کړې اعلامیه کې ویلي چې دغه بریدونه وحشیانه او غیر انساني دي. نوموړي د دې پېښې پړه پر وسله والو طالبانو اچولې او وایي، طالبانو په دې ډول بریدونو سره یو ځل بیا ثابته کړه چې دوی د جګړې پر سیاسي حل باور نه لري او جګړو ته ادامه ورکوي. ولسمشر غني یو ځل بیا پر طالبانو غږ کړی، چې د افغانانو پر وړاندې روانه نامشروع جګړه پای ته ورسوي. د ده په خبره: «د نامشروع جګړې په دوام او د عامو افغانانو په وژلو سره طالبان د خدای او ملت پر وړاندې مسوول دي».
د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله هم په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي چې طالبانو د تاوتریخوالي په ډېرولو سره دغه ډول بریدونو ته لار برابره کړې او په خبره یې، که وضعیت همداسې دوام کوي، نو د دې احتمال شته چې د افغان سولې لپاره رامنځ ته شوی فرصت ضایع شي. هغه یو ځل بیا پر طالبانو غږ کړی چې د سولې لار خپله کړي او له تاوتریخوالي لاس واخلي. پخواني ولسمشر حامد کرزي هم په یوه خپره کړې اعلامیه کې دغه پېښه غندلې ده او پر ښکېلو لورو یې غږ کړی دی چې ژر تر ژره تاوتریخوالی کم کړي.
د دې تر څنګ د هېواد د امنیتي ادارو مشرانو په یوه خبري کنفرانس کې دغه پېښه د طالبانو کار بللی دی. د کورنیو چارو سرپرست وزیر حیات الله حیات ویلي دا برید طالبانو کړی او په خبره یې، افغان ځواکونه به یې ځواب ورکړي. د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار هم دا پېښه بوږنوونکې بللې او په خبره یې، طالبان به د ورته کړنو په دوام خپلو موخو ته و نه رسېږي.

## تازه شمېرې:

# په امریکا کې د کرونا د مړو شمېر له ۵۹۰ زرو کسانو واوښت


د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۵۲ میلیونه او ۱۳۳ زره او ۵۳۳ کسانو ته رسېدلی دی.
دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۱۹٦زره او ۵۲۹ کسان مړه شوي او نږدې ۱۳۰ میلیونه ترې بېرته رغېدلي دي.
د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۳میلیونه او ۱۰۴زره او ۳۷۷ ته رسېدلي او ۵۹۰ زره او ٦۰ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.
دغه راز هند د ۱۹میلیونه او ۱٦۴ زره او ۹٦۹ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۴ میلیونه او ٦٦۵زره او ۹٦۲ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، فرانسه د پنځه میلیونه او ٦۱٦ زره او ٦۸۹ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او ترکیه د څلور میلیونه او ۸۲۰ زره او ۵۹۱ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.
روسیه، برېټانیا، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.
په اسیا کې هند هغه هېواد دی چې په دې وروستیو کې د کرونا د مړو او مثبتو پېښو شمېر پکې اوج ته رسېدلی دی. د یاد هېواد د عامې روغتیا وزارت وایي، چې په تېرو ۲۴ ساعتونو کې له څلور لکو زیات کسان پر کرونا ویروس اخته شوي دي.
دا د کرونا ویروس له خپرېدو را وروسته لومړی ځل دی چې په هند کې په یوه شپه او ورځ کې دومره کسان د کرونا په ویروس اخته کېږي.
د یاد هېواد عامې روغتیا وزارت چارواکو ویلي چې ښایي شمېرې تر دې هم زیاتې وي. په همدې حال کې د هند په لوېدیځ ایالت ګجرات کې چارواکي وایي چې په یوه روغتونو کې د کرونا ویروس د ناروغانو درملنې په ځانګړې څانګه کې اور لګېدلی او ۱۲ تنه یې مړه کړي دي. د اور لګېدنې علت لا معلوم نه دی، خو چارواکي وایي چې له روغتون څخه ۵۰ ناروغان ژغورل شوي دي.

## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شيبې




### ۲۸
### ډونالډ ټرمپ، جنگ اچوونکی مدير

دولت: زه به د پاکستان او هند پر اړيکو د امريکا د رول په هکله خپله تجربه درته ووايم. دوی څنگه دواړې خواوې جنگوي او څو ځلې دا کار کېږي؟ که هغه تاته يو څه ووايي ته به يې وکړې؟

په زړه پورې دا چې په PMO کې دا پوښتنه له ما وشوه.آيا تاسې په کومه بڼه تر فشار لاندې راوستل شوي ياست؟ ما وويل، ما هېڅ کله داسې احساس نه دی کړی چې په PMO کې څوک تر فشار لاندې وي يا امريکايان پر چا فشار راوړي.

زما دنده بله وه، کېدای شي په برجيش ميشرا يا په بل چا فشار اچول شوی وي. خو کله کله جنگ اچونه کېدله. سهای او احسان و منله چې کله په (۲۰۰۳. ز)کال کې د دواړو لوريو له خوا ډزې شوې وې، په هغې کې د امريکا لاس و.

ما ډېر ليکونه ترلاسه کړل چې پکې ليکل شوي وو، موږ ولې له پاکستانيانو سره خبرې نه کوو. ما برجيش ميشرا ته وويل: «ولې دا کار و نکړو؟ ډېر خلک دا وړانديز کوي.»

هغه وويل: «نه اوس يې وخت نه دی، صبر وکړه.»

زما يوازينی مخامخ ثبوت دا دی چې کله کوفر بلک د CIA د تروريزم ضد مرکز مشر ډيلي ته راغی، هغه د برجيش ميشرا سره وليدل او هغه ماته راوليږلو. د معمول په څېر RAW اداري خپل پريزينټېشن ورکړ. ده وويل، «زه غواړم له تاسې سره پنځه دقيقې يوازې وگورم.» موږ لاړو او يو گيلاس چای مو واخيست. هغه وويل «موږ په پاکستانيانو فشار اچوو چې عمل وکړي، نو تمه لرو چې تاسې کوم شی خراب نکړئ،»

ما وويل: «نه موږ داسې کوم څه نه کوو، يوازې پاکستانيان دا کارونه کوي.»

هغه وويل: «سمه ده.»

ما فکر کولو کله چې مودي رايونډ ته ځي او هلته به بارک اوباما ته غېږه ورکوي، ولې ميا صېب ته غېږ نه ورکوي؟

تا څو ځلې دا فکرکړی؟

دورانی: هر وخت داسې شوي دي.

دولت: هر وخت، هو. ما غوښتل همدا ووارم.

دورانی: هر وخت دوی فشار راوړي، غوښتنه کوي او وړانديز کوي. همداسې دوام لري. خو دا کوم مهم څه نه دي.

دولت: رئيسه! زه ستا په «خو» گانو پوهېږم. د دې مانا دا ده چې هغه په موږ هېڅ اغېز نه کوي.

دورانی: اساساً دا زموږ د هېواد د دولت او مشرانو په ټيټ ذهن پورې اړه لري. ځينې فشار زغمي، خو ځينې نور بيا تسليمېږي. خو هر کله چې زموږ اساسي گټې او اساسي پاليسي اغېزمنه شوې، بيا نو موږ مقاومت کړی او برياليي شوي يوو.

د بېلگې په توگه، د فشار د مهارولو لپاره ولسمشر غلام اسحق خان يادولی شو، هغه د اتومي پروگرامونو د ترسره شويو کارونو په هکله ان توافق ته هم و نه رسېد.چا چې جوړاوه، هغه مخکې بشپړ کړی و. ده به دا هم ويل: «نه، موږ به هغه بند نه کړو، د بندولو هېڅ پوښتنه نشته.» دا يو کلک توپ دی چې څوک يې لوبوي.

سېنها: که ټرمپ له نړی ووځي، دا له هند سره څنگه ستراتېژيکه ملگرتيا ده؟

دولت: ان اوس هم د داسې ښې گټې لپاره کار نه ورکوي.

دورانی: زه ښاغلي دولت ته د دې امتياز ورکوم چې هغه ويلي وو، ټرمپ به يې وگټي. زه سره له دې چې د هغه په هکله دوه زړی وم، خو بيا مې هم غوښتل چې هغه يې وگټي، ځکه ما فکر کولو چې هغه کولای شي ټولو حکومتي جوړښتونو ته ټکان ورکړي. د امريکا، پاکستان او هند حکومتونه د خپلو خلکو د گټو پر ځای ډېر د خپلو گټو لپاره کار کوي. دوی ته ټکان ورکول بد نظر نه دی.

دويم، ما هيلري کلينټن ته خپله د لوی مشکل په سترگه کتل. يعنې پېژندل شوی مشکل به په هغه نا پېژندل شوي مشکل بدل کړي، کېدای شي ان له دې يې ستر هم کړي.

دولت: په هغه ورځ چې پايلې اعلان شوې جنرال صېب ماته ټليفون وکړ. هغه په زړه پورې خبرې اترې وې. صادقاً زه له پايلې سره نه وم خوښ. خو هغه وويل، «زموږ دواړو لپاره ښه پايله ده.» ما وويل هو همداسې ده. ستاسې لپاره ښه، بايد زموږ لپاره هم ښه وي.

ما ځکه داسې وړاندوېينه کړې وه، چې زه د BREXIT د رايې اچونې پر مهال په لندن کې وم. پايلې انگريزان او لندن حيران کړ. د هېواد شاوخوا او شمالي سيمو د بل څه له مخې رايه اچولې وه. که (ډيويډ) په هغه ريفرانډم کې ماته خوري چې اړتيا يې نه وه، نو دا هم سمه ده چې ټرمپ به يې وگټي.

**دوام لري...**

# خانه دانش د لوړو زده کړو موسسه

حميدالله حميدي



خانه دانش د لوړو زده کړو موسسه چې په تخار ولايت کې موقعيت لري، په ۱۳۹۰ کال کې يې له انستېټيوټ څخه د لوړو زده کړو موسسې ته ارتقاع وکړه. د يادې موسسې د علمي معاون ښاغلي عبدالواحد حماد په وينا، خانه دانش د لوړو زده کړو موسسې د پيل پر مهال يوازې د اقتصاد پوهنځی درلود چې د څلورو ډېپارټمنټونو په چوکاټ کې يې درسي چارې پر مخ بېولې، خو په ۱۳۹۳ کال کې يې له لوړو زده کړو وزارت څخه د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي جواز هم تر لاسه کړ، چې اوسمهال دغه موسسه د دوو پوهنځيو او شپږو ډېپارټمنټونو په درلودو سره فعاليت کوي.

ښاغلي حماد وويل، دوی په حقوقو او سياسي علومو پوهنځي کې دوه ډېپارټمنټونه، قضا او څارنوالي او اداره او ډيپلوماسي، او په اقتصاد پوهنځي کې هم څلور ډېپارټمنټونه لري چې محصلين پکې پر لوړو زده کړو بوخت دي.

د ښاغلي حماد په وينا، خانه دانش د لوړو زده کړو موسسه د زرو په شاوخوا کې محصلين لري چې له دې ډلې يې ۳۵ سلنه ښځينه محصلينې او پاتې نور يې هلکان تشکيلوي.

ښاغلي حماد زياته کړه، دوی په خانه دانش د لوړو زده کړو موسسه کې د ماسټرۍ پروگرام درلود، خو د کرونا ناروغۍ د گواښونو له امله يې چارې وځنډېدې، له همدې امله يې د ايران هېواد له يوه پوهنتون سره د تفاهم ليک پر بنسټ د دغه پروگرام چارې ياد پوهنتون ته وسپارلې. د ښاغلي حماد په وينا، تمه ده چې د کرونا ناروغۍ په له منځه تلو سره به يو ځل بيا د خانه دانش په لوړو زده کړو موسسه کې د ماسټرۍ پروگرام پيل شي.

د خانه دانش د لوړو زده کړو موسسې علمي معاون همدا راز وويل، دوی تر دې دمه له خپلو دواړو پوهنځيو څخه په پنځو دورو کې تر ۲۸۰ پورې محصلين فارغ او ټولنې ته يې د خدمت په موخه وړاندې کړې دي.

ښاغلي حماد وويل، دوی هر کال په مختلفه کچه نوي محصلين جذب کړي دي، داسې چې په ۱۳۹۷ کال کې يې ۳۰۰ تنه، په ۱۳۹۸ کال کې يې ۴۲۳ تنه او په ۱۳۹۹ کال کې يې تر ۳۸۰ تنو پورې نوي محصلين جذب کړي او د لوړو زده کړو امکانات يې ورته برابر کړي دي.

د خانه دانش د لوړو زده کړو موسسې ياد مسوول زياته کړه، دوی خپلو محصلينو ته د هر سمېستر په فيس کې تر ۵۰ سلنه پورې تخفيف ورکوي. د نوموړي په وينا، د دوی د هر پوهنځي سمېستر وار فيس په لوړو زده کړو وزارت کې ۱۵۰۰۰ افغانۍ ثبت شوی دی، خو دوی د خپل ځانگړي تخفيف په پام کې نيولو سره له محصلينو څخه هر سمېستر ۸۰۰۰ افغانۍ اخلي.

ښاغلي حماد همدا راز وويل، دوی له هغو محصلينو څخه چې اقتصادي وضعيت يې ښه نه وي او يا له مالي ستونزو سره لاس او گرېوان وي، هېڅ ډول فيس نه اخلي او په وړيا توگه ورته د لوړو زده کړو اسانتياوې برابروي.

ښاغلي عبدالواحد حماد وويل، دوی د ورځې په دوو ټايمونو کې خپلې درسي چارې پر مخ بيايي، چې يوه يې سهارنۍ دوره ده او بله يې هم ماښامنۍ دوره.

ښاغلي حماد زياته کړه، دوی په خانه دانش د لوړو زده کړو موسسه کې ټول ۴۳ استادان لري، چې له دې ډلې يې ۲۱ د ماسټرۍ تر کچې لوړې زده کړې لري او پاتې نور يې لسانس دي.

د ښاغلي حماد په وينا، دوی د خپلو محصلينو لپاره د پوهنتون په سطحه لوی کتابتون لري چې شاوخوا شل زره جلده مختلف کتابونه پکې شته او پر دې سربېره هر پوهنځی خپل ځانگړی کتابتون هم لري، چې د مسلک اړوند کتابونه پکې موجود دي او محصلين کولای شي خپل د اړتيا وړ مالومات ترې تر لاسه کړي او وخت ناوخت مطالعه پکې وکړي.

ښاغلي حماد وويل، دوی د هېواد د ننه له ځينو پوهنتونونو سره علمي اړيکي لري، چې د يادې موخې لپاره يې د تخار او بدخشان پوهنتونونو اتحاديه رامنځته کړې ده او پر دې سربېره په تخار ولايت کې د لوړو زده کړو څلورو د خصوصي موسسو اتحاديه لري، چې په هغوی کې پيمان، راه سعادت، خانه دانش او يوه بله د لوړو زده کړو خصوصي موسسه غړيتوب لري او له همدې لارې يو له بل سره د اکاډميکو اړيکو پر بنسټ خپلې علمي تجربې شريکوي.

ښاغلي عبدالواحد حماد زياته کړه، دا چې د لوړو زده کړو خصوصي موسسو ته تر دې دمه د فارغو محصلينو ډيپلومونه نه دي ورکړل شوي، نو دوی هم خپلو فارغو محصلينو ته په لوړو زده کړو وزارت کې ثبت او راجستر شوي ترانسکرېپټونه ورکوي څو محصلين وکولای شي چې له حقوقو يې گټه واخلي.

ښاغلي حماد وويل، دوی د خپلو محصلينو د علمي سويې د لوړاوي په موخه ډېر امکانات لري، د بېلگې په توگه، وړيا انټرنېټ کلپ، کمپيوټر لب، ښوونيز سمينارونه، ورکشاپونه، د اقتصاد پوهنځي د محصلينو لپاره د عملي کار پروگرامونه، دولتي قضايي ادارو ته د عملي کار او تمثيلي محکمو د دايرولو په موخه د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د محصلينو لېږل او داسې نورې هغه اسانتياوې دي، چې خانه دانش د لوړو زده کړو موسسه يې د خپلو محصلينو د علمي سويې د لا بډاينې په موخه تر سره کوي.

ښاغلي حماد زياته کړه، دوی د موسسې د لا پرمختگ او ښه والي په موخه پنځه کلن ستراتيژيک پلان چمتو کړی، چې له ۱۳۹۹ کال څخه تر ۱۴۰۳ کال پورې د پلي کېدو وړ دی، چې د ياد پلان په ترڅ کې به له ټولو نړيوالو سټنډرډونو څخه گټه واخلي او د پوهنځيو، کتابتون، د محصلينو د علمي سويې د لوړولو او د تضمين کيفيت مرحلو پوره کولو ته به ځانگړې پاملرنه وشي او د موسسې د لا بډاينې په موخه به يې عملي کړي.

ښاغلي حماد په خپلو خبرو کې وويل، دوی له لوړو زده کړو وزارت څخه غوښتنه کوي څو د لوړو زده کړو د خصوصي موسسو چارو ته د رسېدو په برخه کې لا ډېرې اسانتياوې رامنځته کړي. د نوموړي په وينا، دا چې په هېواد کې د لوړو زده کړو د خصوصي موسسو شمېر زيات دی، خو په لوړو زده کړو وزارت کې يې د اړوندو چارو د پر مخ بېولو لپاره يوازې پنځه ويشت کار کوونکي پر دنده گمارل شوي دي، چې همدا د لوړو زده کړو موسسو د چارو د نه پرمختگ او ځنډ لوی لامل دی. نوموړي له لوړو زده کړو وزارت څخه هيله وکړه څو د لوړو زده کړو د خصوصي موسسو د معينيت په چوکاټ کې يوه اداره رامنځته کړي، څو وکولای شي چې د يادو موسسو اړوندو چارو ته په وخت رسيدگي وکړي او ستونزې يې حل شي. نوموړي همدا راز زياته کړه، دا چې خصوصي موسسې د دولت يوه مرستندويه برخه ده، نو له دولت څخه غواړي څو يادو موسسو ته لا ډېره پاملرنه وکړي، توپيرونه په پام کې ونه نيسي او اړوندو چارو ته يې پر وخت رسيدگي وکړي.

**مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی**
**Citizens Organization for Advocacy and Resilience**
CoAR 1989
## اعلان داوطلبی

موسسه مدنی داد خواهی و توانمندی (COAR) به کمک مالی موسسه حمایه اطفال تصمیم دارد برای تطبیق پروژه (تعلیمی) درولایت کندز یک تعداد کیت های استادان، متعلمین، صنفی وصابون دیتول خریداری نماید. انعده شرکت های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط ، لایسنس مدار اعتبار باشند لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (May 02, 2021) الی (May 12,2021) به دست آورد. و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

**خانه نمبر ٤٨ نارسیده به پل وحدت، پل سرخ کارته چهار ناحیه سوم شهر کابل .**
procurement@coar.org.af

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۵ |
| € | ۹۲,۵ |
| Rp. | ٤٩٤ |
| ₹ | ۱۰۷۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۵,۲ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# لاغری و تناسب اندام در ماه رمضان؛ چطور سالم، قوی و خوش‌اندام بمانیم؟

امین همتی

در ماه رمضان، تمامی مسلمین جهان در مراسمی عبادی شریک یکدیگر می‌شوند و یک ماه، از طلوع خورشید تا غروب آن، نه چیزی می‌خورند و نه چیزی می‌نوشند. با تغییرات در سبک زندگی و رژیم‌های غذایی، همه‌ساله شاهد سردرگمی‌های بسیاری راجع‌به سلامت در ماه رمضان هستیم. بسیاری از روزه‌داران اطلاعات کافی درباره رژیم غذایی مناسب ماه رمضان ندارند؛ در نتیجه، مصرف شکر و غذاهای چرب بیشتر می‌شود، در وعده‌های سحر و افطار پرخوری می‌کنند، و به‌مرور دچار مشکل می‌شوند. مسئله دیگر لاغری در ماه رمضان است که ناخواسته برای برخی دردسرساز می‌شود. در ادامه مطلب حاضر، بیشتر درمورد این موضوع خواهید خواند.

روزه‌داران معمولاً در وعده‌های افطار و سحر پرخوری می‌کنند. به‌علاوه، مصرف غذاهای ناسالم شیرین و چرب در ماه رمضان، در مقایسه با اوقات دیگر سال بیشتر است. علاوه بر اینها، نظم خواب شبانه‌روزی در ماه رمضان نیز به هم می‌ریزد. این بی‌نظمی ترشح هورمون‌هایی را که برای تنظیم و تعدیل سوخت‌وساز کاربوهایدریت در بدن ترشح می‌شوند مختل می‌کند. این نیز ممکن است از دیگر دلایل چاقی و اضافه‌وزن در ماه رمضان باشد. البته هدف از ذکر این دلایل ایرادگرفتن نیست. صرفاً می‌خواهیم درک بهتری از این موضوع پیدا کنید که کارکرد طبیعی بدن چطور تحت‌تأثیر قرار می‌گیرد. با شناختی که از این بررسی به دست می‌آورید، کار راحت‌تر و مؤثرتری برای مقابله با پیامدهای آن خواهید داشت. این ما را می‌رساند به یافتن راه‌حل: چطور می‌توان با این موضوع مقابله کرد؟ برای حفظ لاغری و تناسب اندام در ماه رمضان چه باید بکنیم و چه مسائلی را باید رعایت کنیم؟ در ادامه خواهیم گفت.

برای تناسب اندام در ماه رمضان و دچار نشدن به اضافه‌وزن، باید هم به رژیم غذایی‌مان توجه کنیم و هم به تحرک کافی و ورزش بپردازیم. در ادامه، این دو موضوع را بررسی می‌کنیم.

در ماه رمضان به چه نکاتی درباره رژیم غذایی باید توجه کنیم؟ بهترین مواد خوراکی و غذایی برای حفظ تناسب اندام و لاغری در ماه رمضان چه‌ها هستند؟ خوردن چه‌چیزهایی بهتر است و به کاهش احتمال ضعف یا عطش در روزهای طولانی روزه‌داری کمک می‌کند؟ دراین‌باره توصیه‌هایی داریم:

**۱ـ فکرکردن به حقیقت و فلسفه ماه رمضان**

اول از همه باید یادمان باشد رمضان فقط به‌معنای گرسنگی‌کشیدن از صبح تا شب نیست. مهم‌ترین هدف معنوی در این مراسم عبادی تأدیب نفس و تسلط بر خود است. در حقیقت، تحمل گرسنگی راهی است برای کاهش میل به خواسته‌های مادی و تمرکز بر جنبه‌های معنوی زندگی، هرچند برای مدتی کوتاه.

پرخوری در وعده‌های افطار و سحر، که عامل اصلی اضافه‌وزن است، با هدف معنوی رمضان سازگاری ندارد.

**۲- توجه به تغییرات مرتبط با عادات غذاخوردن**

اگر قصد کاهش وزن در ماه رمضان و حفظ لاغری خود را دارید، چند توصیه مهمی را که در ادامه مطرح می‌شوند مدنظر قرار دهید و اجرا کنید:

وعده غذای اصلی (شام) را حداقل ۲ ساعت بعد از افطار بخورید تا بدن، توان هضم غذا را داشته باشد و معده پر نشود؛

در وعده افطار پرخوری نکنید. بهتر است روزه را با سالاد میوه یا چیزی شبیه به آن باز کنید. از خوردن خوراکی‌های شیرین برای بازکردن روزه خودداری کنید.

در وعده افطار و هنگام خوردن غذا، لقمه‌ها را آرام بجوید و با صبر و حوصله غذا بخورید. خوب لقمه را بجوید بعد آن را پایین دهید. این‌طور، مدت‌زمان غذاخوردن بیشتر و میزان غذایی که می‌خورید کمتر خواهد شد.

راهکاری بسیار خوب برای جلوگیری از پرخوری در وعده افطار این است که روزه را با چند دانه خرما و مثلاً یک لیوان آب ولرم باز کنید. بعد از آن نیز به خواندن نماز مغرب و عشا مشغول شوید. این‌طور، بدنتان به‌شکل بهتر و مؤثرتری برای هضم آنچه قرار است، بعد از نماز بخورید آماده خواهد شد و احتمالاً کمتر غذا خواهید خورد.

**۳- اضافه‌کردن خوراکی‌های سالم و مقوی به وعده‌های سحر و افطار**

در ماه رمضان، به‌جای غذاهای حاوی کاربوهایدریت فراوری‌شده مثل آرد یا برنج سفید، غذاهای حاوی غلات کامل مصرف کنید. برنج قهوه‌ای، نان و پاستای قهوه‌ای و خوراکی‌های دیگر نظیر اینها، که از غلات کامل درست می‌شوند، سرشار از فیبرند. در نتیجه، شاخص گلیسمی (شاخص قند خون) پایینی دارند. غذاهای با شاخص گلیسمی پایین در مقایسه با سایر مواد خوراکی و غذایی، دیرجذب‌ترند و برای مدت طولانی‌تری سطح قند خون در بدن را متعادل نگه خواهند داشت. با این حساب، برای روزهای رمضان، که باید گرسنگی را برای مدت طولانی تحمل کرد، انتخاب‌های فوق‌العاده خوبی‌اند و به حفظ تناسب اندام و لاغری در ماه رمضان کمک خواهند کرد.

به خاطر داشته باشید، کاربوهایدریت نباید به‌کلی از رژیم غذایی کنار رود. کاربوهایدریت تنها منبع تأمین گلوکوز موردنیاز مغز است؛ گلوکوزی که مغز آن را تبدیل به انرژی می‌کند. همیشه مقدار اندکی از آن برای کارکرد طبیعی و سالم بدن لازم است. منتها نباید در مصرفش زیاده‌روی کرد. به‌علاوه، خوراکی‌های سالمی وجود دارند که سرشار از کاربوهایدریت‌اند و شاید با آنها آشنا نباشید، مثلاً میوه‌ها و سبزیجات. از این منابع سالم برای تأمین کاربوهایدریت لازم استفاده کنید .

**برای وعده سحر چه بخوریم؟**

تخم‌مرغ، حلیم، میوه، شیر کم‌چرب، آب میوه، غلات و سالاد انتخاب‌های سالم و خوبی برای وعده سحرند. در این وعده، از خوردن غذاهای سرخ‌شده و چرب و ادویه‌جات بپرهیزید. مصرف اینها عامل اصلی نفخ، سوزش قلب و مشکلات گوارشی است که بعضی از روزه‌داران گرفتارشان می‌شوند.

**۴- حذف غذاهای چرب و سرخ‌شده**

در دو وعده سحر و افطار از خوردن غذاهای چرب و سرخ‌شده بپرهیزید. به‌جای آن، به انتخاب‌های سالمی چون غذاهای پخته‌شده، میوه‌های تازه، سالاد، خرما و شیر کم‌چرب روی آورید. مصرف غذاهای چرب، هم سبب اضافه‌وزن خواهد شد و هم احتمال عطش و ضعف در طول روز را بیشتر خواهد کرد.

بین زمان افطار و شام حداقل یک ساعت و نیم وقفه زمانی باشد. اگر هر دو را پشت‌سرهم بخورید، احتمال پرشدن معده و ناراحتی بیشتر می‌شود. هنگام صرف شام، بشقابتان را به‌اندازه‌ای که فکر می‌کنید اشتها دارید از غذاهای سالم شامل سبزیجات پر کنید. بعد از آنکه بشقاب را خالی کردید، ۲۰ دقیقه صبر کنید. اگر بعد از آن باز گرسنه بودید، می‌توانید کمی بیشتر غذا بخورید. گاهی به‌اشتباه گمان می‌کنیم گرسنه هستیم، در حالی که هیجانی بیش نیست و معده به‌اندازه کافی پر شده است.

**۵- حفظ تنوع غذایی**

از آنجا که تقریباً در تمامی طول روز امکان خوردن و نوشیدن وجود ندارد، حتماً باید در وعده‌های افطار و سحر تنوع غذایی را حفظ کرد. هدف آن است که تمامی مواد مغذی موردنیاز بدن تأمین شوند. میوه و سبزیجات تازه، گوشت مرغ و ماهی، لبنیات کم‌چرب، حبوبات و محصولات حاوی غلات کامل انتخاب‌های سالم و خوبی‌اند.

**٦- افزودن پروتئین‌های سالم**

برای اینکه در ماه رمضان پروتئین‌های سالم موردنیاز بدن را تأمین کنید، می‌توانید به‌جای گوشت گاو یا گوشت قرمز، در غذایی که درست می‌کنید، از گوشت‌های سفید مثل گوشت مرغ یا ماهی استفاده کنید.

**۷- خودداری از مصرف نوشیدنی‌های کافئین‌دار بین افطار و سحر**

هرچه خوراکی‌های حاوی شکر و کافئین مصرفشان کمتر باشد (در مدت‌زمان بین افطار و سحر) برای سلامتی‌تان بهتر خواهد بود. اگر گرسنه بودید، برای رفع آن بیشتر چیزهایی مثلاً سالاد یا میوه بخورید. حتماً ٦ تا ۸ لیوان آب موردنیاز روزانه را در فرصت بین افطار و سحر بنوشید تا خطر کم‌آبی بدن و مشکلاتی که در پی دارد به حداقل برسد.

**۸- پیاده‌روی بعد از صرف شام**

این کار را بسیار توصیه می‌کنیم. پیاده روی برای حفظ تناسب اندام و لاغری در ماه رمضان عالی است. بعد از صرف شام، ۳۰ دقیقه از وقتتان را صرف قدم‌زدن کنید. این‌طور، بخشی از کالری جذب‌شده از غذای افطار و شام خواهد سوخت و آنچه خورده‌اید خیلی بهتر هضم خواهد شد.

# ترویکا: د بهرنیو ځواکونو د وتلو پرمهال دې جګړه او ګډوډي نه جوړېږي

د امریکا، روسیې، چین او پاکستان استازو په دوحه کې د افغان حکومت د سولې له مرکچي پلاوي سره کتلي دي.

د دغو هېوادونو په ګډې اعلامیې کې ویل شوي، چې د دې لیدنې موخه د افغانانو تر منځ د سولې د مخامخ خبرو ملاتړ او د دایمي اوربند او هوکړې ته د رسېدو لپاره له دواړو ډلو سره مرسته کول دي.

په اعلامیې کې ویل شوي، چې د دغه هېوادونو استازو د افغان حکومت پر مذاکراتي پلاوي سربېره، د طالبانو د استازو او قطر له چارواکو سره هم کتلي دي.

په اعلامیې کې ټینګار شوی، چې د افغانستان جګړه پوځي حل نه لري او د حل یوازینۍ لاره یې سیاسي هوکړه ده، چې د سولې د یوې داسې پروسې له لارې تر لاسه کېدای شي چې مشري یې پخپله له افغانانو سره وي.

د ترویکا په اعلامیې کې دغه راز ټینګار شوی، چې د بهرنیو ځواکونو د وتلو پر مهال دې د افغان سولې خبرو ته مزاحمت نه کېږي، هېڅ ډول جګړه او ګډوډي دې نه جوړېږي. په اعلامیې کې له طالبانو نه غوښتل شوي چې پسرلني عملیات دې نه پیلوي او په ملکي خلکو بریدونه هم پکې غندل شوي.

دغه هېوادونه داسې مهال په ملکي خلکو د بریدونو غندنه کوي، چې ورځ مانښام په لوګر کې د روژه ماتي پر مهال په عامو خلکو په موټر بم برید کې لسګونه کسان وژل شوي.

په اعلامیې کې همدارنګه د ملګرو ملتونو د بندیزونو د تور لېست نه د طالبانو د ځینو غړو د نومونو د ایستلو د ارزونې ملاتړ شوی او پکې ویل شوي، که طالبان د تشدد د کمښت لپاره عملي اقدامات او د افغانانو تر منځ د سولې په مخامخ خبرو کې دوامداره هلې ځلې وکړي، د ارزونې پر دې پروسې به مثبت اغېز ولري.

په ورته مهال د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د ترویکا د استازو د ګډې اعلامیې هرکلی کړی او د سولې د خبرو د بیا پیل کېدو لپاره یې یو ګام بللی دی.

د یادو هېوادونو د استازو تر څنګ د افغانستان د سولې د خبرو لپاره د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم په جلا جلا توګه د افغانستان د حکومت او طالبانو د استازو سره په دوحه کې کتلي دي.

خلیلزاد په دغه لیدنه کې د افغان سولې بهیر د ګړندي کولو په اړه د امریکا متحده ایالتونو د اقداماتو ډاډ ورکړی او زیاته کړې ده چې امریکا به د افغانستان او افغانانو ملاتړ ته دوام ورکړي.

بلخوا طالبانو هم تایید کړې چې په دوحه کې یې د ترویکا د هېوادونو له استازو سره کتلي. دا لیدنې داسې مهال دي چې د افغان سولې خبرې په ټپه ولاړې دي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

یکشنبه د ۱۴۰۰ د غویي ۱۲مه | د ۲۰۲۱ د مي دویمه |۷۱۵مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

یکشنبه ۱۴۰۰/۰۲/۱۲
د سهار اذان ۰۳:۲۸ د ماښام اذان ۰۶:۴۳
رمضان کریم

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۳ | ۲٦ | ۳۲ | ۳۲ | ۳۵ | ۲۸ |
| ١٤ | ۱۷ | ۱۸ | ۲۳ | ۲۳ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۸ | لمر ختل ۰۵:۰۳ | ماسپښین ۱۱:۵۱ | مازیگر ۰٤:٤۰ | ماښام ۰٦:٤۳ | ماخوستن ۰۸:۰٦

نړۍ




## رابطه عالم اسلامي په کابل او سروبي ولسوالي کي له 1217 نه زیاتو اړو کورنیو باندي د روژه ماتي پروگرام ترنامه لاندي ، مرستي وویشلي .

د روژي د مبارکي میاشتي په مناسبت , د رابطه عالم اسلامي ( له لوري په کابل او سروبي ولسوالي کي په ، له (1217) نه زیاتو اړو کورنیو باندي خوراکي توکي لکه وړه ، وریجي ، غوړي ، لوبیا او بوره وویشل .

دغه خیریه ټولنه دنورو خیریه کارونو او پروژو ترڅنگ هر کال درمضان په مبارکه میاشتي کي په اړو کورنیو باندي خوراکي توکي ویشي چه سږکال هم دنومړي ټولني له لوري او ددغي ټولني دسرمنشي محترم داکتر محمد عبدالکریم العیسی او داکتر عبدالرحمن المطر په ځانگړي سپاربښتنه افغانستان په هغو هیوادونو کي شامل کړل شول چي په هغي کي به خوراکي توکي ویشل کیږي، او دادي دغي ټولني ته اړوند دافغانستان دفتر له لوري په اړو کورنیو باندي دغه مرستي وویشلي ، په اړو کورنیو باندي دخوراکي توکو د ویش دغه بهیر په کابل او سروبي ولسوالي کي دنومړي ټولني دکابل ددفتر له لوري له یو شمیر دولتي ادارو په خاص ډول د سري میاشتي تولني او د کوچیانو له لوي ریاست سره په گډ تفاهم او همکاري ترسره شو ، پاتي دي نه وي چه د کوچیانو رئیس محترم حبیب الرحمن احمدزي او د سري میاشتني ټولني معاون داکتر محمد نبي برهان او ددغي تولني د بین المللي اړیکو رئیس محترم الحاج غلام حبیب حسام د مرستو دویش په بهیر کي برخه واخسته او په خپلو لاسونو یي په بي وزله کورنیو هغه مرستي چه د نومړي موسسه لخوا تهیه شوي وي تقسیم کړي ، دسري میاشتي ټولني او کوچیانو لوي ریاست مسؤلینو ددغي ټولني له دغو مرستو څخه مننه وکړه او زیاته یي کړه چه دغه مرستي په داسي وخت کي ترسره شوي چه دکرونا ویروس خلك سخت ځپلي دي او په بیړني ډول بیړنیو مرستو ته عاجل ضرورت لري او له دغي ټولني یي وغوښتل ترڅو په مختلفو برخو کي له زیانمنو کورنیو سره خپلي مرستي جاري وساتي .



CoAR 1989
مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی
Citizens Organization for Advocacy and Resilience

اعلان داوطلبی

موسسه مدنی داد خواهی و توانمندی (COAR) به کمک مالی موسسه حمایه اطفال تصمیم دارد برای تطبیق پروژه (تعلیمی) درولایت کندز یک تعداد کتابهای صنف اول الی سوم خریداری نماید. انعده شرکت های لوژستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط ، لایسنس مدار اعتبار باشند لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (May 02, 2021) الی (May 12, 2021) به دست آورد. و افرهای قیمت دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد.

خانه نمبر ٤٨ نارسیده به پل وحدت، پل سرخ کارته چهار ناحیه سوم شهر کابل .

procurement@coar.org.af

وزارت صحت عامه:

## اگر مردم موارد صحی رعایت نکنند، احتمال وقوع فاجعه انسانی در افغانستان وجود دارد



به دنبال افزایش واقعات مثبت و تلفات ناشی از ویروس کرونا در برخی ولایت‌های کشور، وزارت صحت عامه هشدار می‌دهد که اگر مردم موارد صحی را مراعات نکنند، احتمال وقوع فاجعه انسانی در افغانستان وجود دارد.

براساس معلومات مقام‌های وزارت صحت عامه، نوع جهش‌یافته (ویروس انگلیسی) در شماری از ولایت‌های کشور به شمول کابل مشاهده شده و وزارت‌های حج و اوقاف و انکشاف دهات، در هماهنگی با وزارت صحت عامه، برنامه آگاهی‌دهی عمومی به مردم را آغاز کرده‌اند. در پی افزایش وحشت‌ناک مرگ‌ومیر ناشی از کرونا در هند، بسیاری از کشورها محدودیت‌های تازه‌ای برای مهار ویروس اجرایی کرده‌اند. ایران نیز تمامی مرزهای مشترک خود با افغانستان را به روی ورود شهروندان افغانستان مسدود کرده است. آگاهان امور صحی از کم‌توجهی وزارت صحت عامه و بی‌پروایی مردم در برابر ویروس کرونا، نگران هستند و باور دارند که جنگ و مشکلات امنیتی در افغانستان سبب شده تا مردم کم‌تر به مسایل صحی توجه کنند و ترسی از ویروس کرونا نداشته باشند.

آمار وزارت صحت عامه کشور نشان می‌دهد که در جریان دست‌کم دو هفته اخیر، شمار واقعات مثبت و تلفات ناشی از ویروس کرونا افزایش یافته است. دستگیر نظری، سخنگوی وزارت صحت عامه از اقدامات این نهاد برای مهار ویروس کرونا خبر می‌دهد.




د میرمنو لپاره ځانگړی جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپیژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانگړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په ای تی ام او ماستر ډبټ کارتونوکې د تخفیف له فیس سره په افغانیو او ډالرو کې پرانیزي. یاد حساب د ساتندویه او لنډ پیغام فیس پرته پرانیستلی شي. همداراز د میرمنو حساب له ټیټ ارتیاوړ بیلانس سره یعني 500 افغانیو او50 ډالرو سره پرانیستل کیږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالی چمتو کوي.

www.azizibank.af 1515